Sprin Multidisciplinary Journal in Pashto, Persian & English

*ISSN: 2584-0975 (Online)*

*Vol.02(03), Aug 2024, pp, 06-13*

*Journal homepage: https://sprinpub.com/smjppe*

SPRIN PUBLISHER

*Research article*

# Advantages of practical analysis in Pashto literature

# په پښتو ادب کې د عملي کره کتنې ګټې

*Faheem Baheer*[*1], *M. Agha Ilham*[2], *Safiullah Samim*[3]

[1,2,3]*Department of Pashto Language and Literature, Faculty of Languages and Literature, Albironi University, Afghanistan*

فهيم بهير[*۱]، محمد آغا الهام[۲]، صفي‌الله صميم[۳]

۱،۲،۳پښتو څانګه، د ژبو او ادبياتو پوهنځی، البيروني پوهنتون، افغانستان

ARTICLE INFO

***Keywords:***

literature review, reflection, sense of trust, understanding of literature, development of authorship

**کليدي وييونه :** ادبي کره کتنه، فکر ورکول، باورمندی احساس، سوژو درک، د ليکوالی پرمختګ.

***Article History:***

Received: 22-05-2024
Accepted: 25-07-2024
Published: 06-08-2024

***Cite this Article:***

Baheer, F., Ilham, M. A., & Samim, S. (2024). Advantages of practical analysis in Pashto literature. Sprin Multidisciplinary Journal in Pashto, Persian & English, 2(3). https://doi.org/10.55559/smjppe.v2i3.312

ABSTRACT

Literary analysis is a major branch of literature that is currently undergoing rapid development and is currently integrating many literary theories step by step. A literary work is evaluated through careful observation, and as a result, a torch is lit in front of the reader, which both colors the beauty of the literary work and gives the author new golden paths. In our cultural and educational sphere, more reliance is placed on theory instead of practical observation. Accordingly, our graduate students and many teachers are not familiar with the spirit of accurate observation. In order to solve this problem, the tradition of practical observation should be strengthened and cultivated in the scientific and cultural centers so that students, writers, writers and cultural people understand and experience everything objectively and mentally. This series can help them with a practical series of accurate observations and a good effect. In our educational system, the practical part of the study should be given place and every theory should be applied in the cultural field so that the result is clear. A practical review can help the author, reader and participants of the work in many areas to take steps to progress intellectually and scientifically. Currently, any writer or writer is more successful in the field of work who can walk in the practical part along with the theory.

**لنډيز**

ادبی کره کتنه د ادبپوهنې يوه ستره اساسي څانګه ده چې اوسمهال د چټک پرمختګ په حال کې ده او اوسمهال ور سره ګڼې ادبي نظرۍ ګام پر ګام ملتياه کوي. د کره کتنې د لارې يو ادبي اثر ارزول کيږي او په پايله کې د لوستونکي پر وړاندې د مشال ډيوه بليږي چې هم د ادبي اثر ښکلا رنګينوي او ليکوال ته نوې زرينې لارې کاږي. زموږ په فرهنګي او تحصيلي حوزه کې د عملي کره کتنې پر ځای زياته تکيه پر تيوري کيږي. په همدې اساس زموږ فارغ شوي محصلين او ګڼ شمېرادبيان د کره کتنې له روح سره بلد تيا نه لري. د دې ستونزې د حل له پاره بايد علمي او فرهنګي مرکزونو کې بايد د عملي کره کتنې دود پياوړی او وپالل شي چې محصلان، اديبان، ليکوال او فرهنګيان هر څه په عيني او ذهني لحاظ درک او تجربه کړي. دا لړۍ کولای شي د دوی سره د کره کتنې په عملي لړۍ او د يو ښه اثر په رامنځته کېدو کې مرسته وکړي. زموږ په تحصيلي نظام کې بايد د کره کتنې عملي برخې ته ځای ورکړل شي او هره تيوري بايد په فرهنګي ساحه کې عملي شي چې پايله يې ا رڅرګنده شي. عملي کره کتنه د اثر ليکوال، لوستونکي او ګډونوالو سره په ګڼو برخو کې مرسته کولای شي چې په ذهني او علمي لحاظ د پرمختګ ګامونه واخلي. اوسمهال هر هغه اديب او ليکوال د کار په ساحه کې زيات بريالی دی چې د تيوري سره سره په عملي برخه کې مزل وکړای شي.

**سريزه:** له يو شمېر پوهنو څخه ورځ تر بلې ځينې برخې جلا کيږي او د يوې څانګړې څانګې په توګه يوه دنده پر مخ وړي. ځينې پوهنې د عمل په ډګر کې څرګنديږي، چې کومې برخې يې ډېرې ګټورې دي، ايا په انفرادي توګه که په کلي ډول د پوهنو له نورو برخو سره يو ځای خپله دنده پر مخ يوسي؟ د ادبياتو پوهنځي په تدريسي برخو کې يو استاد ته خپلې تجربې، د پوهنې د هغې برخې د ماهيت څرګند تيا، په ټولنيزو برخو کې د هغې ونډه او د محصلينو

**Corresponding Author*:
Email: fahimbahir2@gmail.com (*F. Baheer*)

https://doi.org/10.55559/smjppe.v2i3.312

© 2024 The Authors. Published by Sprin Publisher, India. This is an open access article published under the CC-BY license
https://creativecommons.org/licenses/by/4.0

په روزنه کې د هغې برخې اساسي رول دا هغه څه دي، چې په راتلونکې تدریسي برخه کې د بدلون سبب کېږي.

موږ د محصلینو له پاره د کره‌کتنې ګڼ شمېر کتابونه لرو، په دې اړه ښه اساسي کتابونه لیکل شوي دي چې د یونان، عربو، رنسانس دوره او د اوسنیو معاصرو لیکوالو له تیوریو څخه بحث کوي. په دې اثارو کې د هغوی لیدلوري، د کره کتنې په اړه وړاندې شوې دي. په پوهنځیو کې هم د تیوري دا اثار لوستل کېږي، خو د محصلینو یا هغه کسانو له پاره چې له ادب او کره کتنې سره مینه لري او یا یې دا برخې د یو مسلک په توګه منلې او پاللې یې دي؛ نو اړتیا ده، چې هغوی ته د تیوریو سربېره د عملي کره کتنې لارې چارې رامنځته شي. د عملي لارو چارو له پاره معیارونه ټاکل کېدای نه شي، ځکه هر لیکوال خپل لید لوری لري او د هغه له فردي بنې څخه عمومي معیارونه ټاکل کېدای نه شي. هر کره‌کتونکی په ادبي اثار کې بېله ښکلا او بېل هدفونهویني. نو د کره‌کتنې د مینه والو، محصلینو او د ادب څېړونکو له پاره عملي کره‌کتنه ډېره مهمه ده. د عملي کره کتنې له پاره باید په اونۍ یا دوه اونیو کې ځانګړې بحثونه جوړ شي او په دې بحث کې په یو ادبي اثر باندې محصلین خپل نظرونه وړاندې کړي. کله چې عملي کره کتنه پیل شي تر پایه بېلابېلې پوښتنې د ګډونوالو له خوا مطرح کېږي د اثر د بېلابېلو اړخونو په اړه پوښتنې او ځوابونه وړاندې کېږي، چې دا پروسه یا سیستم کولای شي د محصلینو یا د ګډونوالو په ذهني، فکري او علمي برخه کې بدلون او پرمختګ رامنځته کړي.

له عملي کره کتنې څخه مخکې اړتیا ده، چې کره‌کتونکی یا ګډونوال د دې فن یا مسلک په اړه بېلابېلې تیورۍ هم لوستي وي او په عملي ډګر کې له هغو څخه ګټه واخلي یا په عملي ډګر کې ځینې برخه یې درک کړي. د عملي کره کتنې ځینو مهمو اړخونو ته په لاندې توګه اشاره کوو، چې د محصلینو یا د دې مسلک پالونکو په علمي او نورو پرمختګونو کې څومره رول لري؟

**د څېړنې موخه:** د ژبو او ادبیاتو پوهنځي محصلان، ادیبان، شاعران او لیکوالو لپاره د عملي کره‌کتنې لارې او ګټې په ګوته کوي چې له دوی سره د خپل مسلک په پیاوړتیا او پرمختګ کې مرسته وکړي.

**د څېړنې اهمیت:** زموږ په تدریسي نظام کې تر ډېره بریده تیوري ته ارزښت ورکول کېږي او اړتیا عملي برخې ته ده. دا لیکنه د عملي کره‌کتنې په ارزښتونو باندې بحث کوي او لوستونکي د علمي کره‌کتنې پالنې او ګټو ته رابولي.

**د څېړنې فرضیه:** عملي کره‌کتنه کولای شي چې د لوستونکو، محصلینو او ګډونوالو په روزنه کې اساسي نقش ولوبوي او په اسانه توګه د یو ادبي اثر نیمګړتیاوې او ښېګنې څرګندې کړي.

**د څېړنې کړنلاره:** دا څېړنه کتابتوني ده او مېتود یې تحلیلي او تشریحي مېتود په مرسته په کې د پښتو ادب د عملي کره کتنې ګټې تر بحث لاندې نیول شوي دي. همدا رنګه ټولې هغه لارې چارې په کې ښودل شوې، چې د ادبي کره کتنې د عملي کار لپاره ګټورې دي.

**د څېړنې مېتود:** د دې څېړنې مېتود یا روش تشریحي او تحلیلي دي؛ خو د څېړنې ډول یې کتابتوني دي.

**د څېړنې تاریخي پس منظر:** د کره‌کتنې د تیوریو په اړه ګڼ شمېر اثار لیکل شوي دي؛ خو د عملي کره‌کتنې په اړه د ګوتو په شمار اثار رامنځته شوي دي:

۱ ـ د لونګو دربڅې: د صدیق الله بدر اثر دی چې په ۱۳۸۹ هـ ش کې د دانش خپرندویه ټولنې له خوا چاپ شوی دی. په دې اثر کې هم د یو شمېر لیکوالو په نظمونو، شعرونو او نثرونو باندې کره کتنه شوې ده.

۲ – د نثر لیکلو هنر: لیکوال یې استاد اسدالله غنضر دی. نوموړی اثر په ۱۳۹۲ هـ ش کې د مومند خپرندویه ټولنې له خوا خپور شوی دی. په دې اثر کې د یو شمېر لیکوالو په نثري اثارو باندې نقد شوی دی.

۳ـ جادوګر هنر: دا اثر په ۱۳۹۳ هـ ش کې د مومند خپرندویه ټولنې له خوا چاپ شوی دی. لیکوال یې استاد اسد الله غضنفر دی. په دې اثر کې هم د ګڼو شاعرانو په شعرونو بحث او کره کتنه شوې ده.

۴ـ ادبستان: لیکوال یې پوهنوال ډاکټر اجمل ښکلی دی. په ۱۳۹٦ هـ ش کې په جلال اباد کې د کلاسیک خپرندویه ټولنې له خوا چاپ شوی دی. په دې اثر کې هم د عملي کره‌کتنې یو شمېر لیکنې شته دي. همدا ډول په یو شمېر مجلو کې هم د عملي کرکتنه نمونې شته دي، خو لاندې لیکنه کې د عملي کره‌کتنې ګټو ته اشاره شوې ده.

## اصلي متن

زموږ په تدریسي نظام کې د کره‌کتنې تیوري ته زیات ارزښت ورکړل شوی دی. په ښونیزو او تحصیلي برخو کې یې عملي اړخ تت او پیکه دی. اوسمهال د بازار او کار اړتیا ته په کتو زموږ د تدریس ګڼې تیوري باید عملي بڼه ولري او د کار په ساحه کې خپله

ونړه څرګنده کړي. په دې اساس د عملي کره کتنې ګټو ته اشاره کوو او په تړاو یې ځینې برخې څېړو:

**۱ ـ کره کتنه:** د دې فن یا مسلک زده کړیالان تر هر څه وړاندې باید د کره‌کتنې د پېژندنې په اړه بنه معلومات ولري، ځکه له پخوا راهیسې تر دې دمه ځینې کسان په دې اند دې چې کره‌کتنه یوازې د یو ادبي اثر یا د لیکوال په اړه د عیبونو لټونه ده، چې د کره کتنې په اړه دا باور په خپله لویه تېروتنه ده. نو لومړی به یې لغوي او اصطلاحي پېژندنې وړاندې کړو:

د کره‌کتنې کلمه پښتو ده، چې په عربي کې نقد او په انګلیسي ژبه کې ورته د کرتسیزم کلمه وضع شوې ده. د ادبپوهنې په څانګه کې د نقد د کلمې په اړه لیکل شوي دي:« نقد عربي کلمه ده، معنا یې سره کول، یا کره کول، د کره او کوټه پیسو جلا کول، د کلام د عیبونو او ښېګڼو څرګندول. (هاشمي،۱۳۹۳ل: ۵۱۳)

همدا ډول یې په ادبپوهنه کې اسانه پېژندنه وړاندې شوې ده: « کره کتنه په لغت کې محاکمه کولو ته وایي او په ادبي اصطلاح کې کره‌کتونکي هغه چا ته ویل کېږي چې د نقد په وسیله د ادبي اثارو او د هغو د ښه والي یا بد والي په هکله لوستونکي ته یوه پریکړه او فیصله صادروي. ادبي کره‌کتونکي د یو ادبي اثر د ژورې کتنې او مطالعې په لړ کې هغه تشریح او توضیح کوي او دغسې د اثر د محتوا په اصلي روح، د لیکوال په پیغام او د ادبي اثر د رامنځته کولو په غرض لوستونکي پوهوي او د یو لړ ټاکلو اصولو په رڼا کې یې ادبي ښکلا ښېګڼې بد ګڼې (عیبونه) نیمګړتیاوې او کمزورتیاوې بیانوي. (هاشمي،۱۳۹۴ ل: ۵٦)

ځینې ادبپوهان وایي: چې د ادب نقد د ادب له تاریخه لومړی رامنځته شوی دی، ځکه د ادبیاتو ایجادونکی په خپله نقاد هم دی. د جاهلیت په وخت کې په عربو کې شاعرانو خپلو شعرونو باندې نقد هم کاوه همدا ډول په یونان کې لومړی کره‌کتونکی، ډرامه لیکونکی، شاعر اریستوفان دی. هغه د چونګښو ډرامه د درېګونو تراژیدي شاعرانو (اشیل، سوفکل او اورپیید) نقد ته ځانګړې کړې ده. (مندور،۱۳۸۰ل: ۱)

همدا ډول پوهاند فیاض لیکلي: ادب څېړنه یا ادبپوهنه له علمي موازینو او پرنسیپونو څخه په استفادې سره د ادبیاتو ماهیت، منشا، تکامل ارزښت او ادبي قوانینو په باب څېړنې کوي، پر دې اساس تحقیقي ادبیات په خپله ادبیات نه ګڼل کېږي، خو د ادبیاتو په باره کې بحث او څېړنه کوي لکه ادبي کره کتنه، ادبي تاریخ او ادبي تیوري. (فیاض،۱۳۹۳ل: ١٦)

نو د پورتنیو کرښو څخه پایله اخلو، چې ادبي کره‌کتنه د ادبپوهنې له اساسي څانګو څخه ده، چې د هغې په اساس کولای شو د یو ادبي اثر ښېګڼې او نیمګړتیاوې را څرګندې کړو. د ادبي اثارو د ارزونې په هدف کره‌کتنه ټاکلي معیارونه، نه لري او نه ټول ذوقي اړخ په کې پالل کېږي، خو زما په اند تر ډېره د لیکوال د شخصي ذوق سره تړاو لري، تر ډېره حده په کې معیارونه ثابت پاتې کېدای نه شي. کله چې کره‌کتنه د ابپوهنې څانګه ګڼل کېږي او ادبپوهنه د ادبیاتو په اړه څېړنه یا مطالعه کوي؛ نو دلته د علم سیوري پرې خپلې وزرې غوړه وي. ځکه ادبي تاریخ، ادبي تیوري او ادبي کره کتنه ځینې اصول او معیارونه هم لري او دا درې واړه څانګې د ادبپوهنې تنه تشکېلوي.

د کره‌کتنې په اړه دوه ډوله نظرونه دي، چې ځینې یې علم او ځینې یې فن بولي؟ د دواړو نظرونو په اړه استاد روهي یو ډول پوښتنې رامنځته کوي او په دې ډول یې ځوابوي: « د کره‌کتنې په باره کې دوه ډوله نظریې شته، ځینې یې علم بولي، ځکه چې د ټاکلیو موازینو او معیارونو په واسطه کره‌کتنه د تخلیقي اثارو ښېګڼې او نیمګړتیاوې رابرسېره کوي او ځینې نور فکر کوي، چې رښتونې نقد پخپله هنر دی او هر یې ذوقه لیکوال حق نه لري، چې د هنر حریم ته ورننوځي. په دې برخه کې د نهایي قضاوت لپاره باید دوو پوښتنو ته غوږ ځواب ورکړل شي. لومړی دا چې که کره‌کتنه علم وي؛ نو باید چې د هغې د څېړنې مېتود او پرانسپونه د ټولو پوهانو له پاره یو شانته د منلو وړ وي. دوهمه پوښتنه دا ده که چېرې علمي موضوع په ښکلي او خوندور سبک ولیکله شي او په داسې توګه وړاندې شي، چې لوستونکی تر ژورې اغېزې لاندې راولي ایا نشو کولای چې دغسې لیکنه ادبي وبولو؟

د لومړۍ پوښتنې ځواب غالباً منفي دی، په دې معنا چې د بېلابېلو کره‌کتونکیو له خوا د کره‌کتنې له پاره مختلف اسلوبونه، مختلف هدفونه او ډول ډول ارزښتونه ټاکل کېږي، که چېرې په کتابونو کې د هنر تعریف ولټوو په سختۍ سره کولای شو یو واحد او د هنرمندانو له خوا منل شوی تعریف په لاس راوړو. همدا رنګه د ادبیاتو، شعر او د کره کتنې د مسایلو په برخه کې همېشه له انفرادي ځکې او ځانګړو تمایلاتو سره مخ کېږو، پر دې اساس د انتقاد علم چې پر نورو انتقاد کوي په خپله د انتقاد وړ دی. (روهي، ۱۳۸٦ل: ۱۲٦)

استاد ښکلی د کره کتنې او تاریخ د توپیر په اړه لیکي: « ... خو کره کتونکی په هره ادبي موضوع یا پېښونه باندې د حال د تیورۍ او د خپلو فردي تمایلاتو په رڼا کې غږېږي. ادبي کره

کتونکی که د ماضي د یوه پنځکر پنځونې مطالعه کوي یا پر یوه موضوع یا مکتب بحث کوي؛ نو د حال زمانې له ادبي تمایلاتو کار اخلی، ځکه د ادبي نقد موخه یې دا ده ادبیات د موجود او راروان وخت د لوستونکو او پنځګرو له پاره د استفادې جوګه کړي او دا هله کېدای شي چې کره کتونکی ادبیاتو ته د اوسمهال د ټولنیزو توقعاتو له زاویې نه وګوري او نورو پنځګرو ته وښيي، چې په تاسو پورې د اوسنۍ ټولنې دا هیلې تړلې دي. له دې نه یوه بله پرېکړه هم کولای شو چې د تاریخ کار له ماضي، خو د نقد له دواړو زمانو سره دی او کره کتونکی پر پخوانیو ادبیاتو هم نقد کولای شي. (ښکلی، ۱۳۹٦ل: ۲۱۲)

تر دې دمه چې موږ د کره کتنې اثار لوستي د کره کتونکي له انفرادي یا شخصي اړخه ډېر کار اخلي او زما په اند دا برخه د ټاکل شویو معیارونو په پرتله ګټوره ده، ځکه د ټاکلو او منلو معیارونو په اساس به هر اثر په هر ځای کې همغسې ارزول کېده چې د دې اثر شکل مهم دی که مضمون؟ شکل یې کومې ځانګړنې لري او منځپانګه یې؟

نو کله چې ټاکلي معیارونه، نه وي او له انفرادي اړخ نه کار واخیستل شي، نو د ګڼو کره‌کتونکو بېلا بېلې کره‌کتنې، د هغوی هدفونه، ارزښتونه را څرګندېږي او کېدای شي په دوی کې ځینې داسې نوې خبرې او نوي اړخونه وي چې تر دې دمه هیچا ورته پاملرنه نه وي کړې یا یې دا اړخ نه وي درک کړی. همدا ډول د هر کره‌کتونکي لید لوری د ادب، فرهنګ، لیکوالو او لوستونکو په ذهني پرمختګ کې هم ستره ونډه لري.

**۲ـ د کره کتنې هدف:** د ځینو ادبپوهانو په اند کره کتنه د دوه سترو هدفونو له پاره کارول کېږي. لومړی دا چې ادب تشریح یا تفسیر کړي او دویم د یو ادبي اثر نیمګړتیاوې او ښېګنې څرګندې کړي. مخکې مو اشاره وکړه چې کره کتنه د ادبپوهنې ځانګه ده او ادبپوهنه د ادبیاتو په اړه څېړنه یا مطالعه کوي، نو کره کتنه به حتماً یو ادبي اثر تشریح کوي، د هغې د راپنځونې ګڼ شمېر اړخونه را څرګندوي. د پنځول شوي ادبي لیکنې هدف، ځانګړنې، شکل، منځپانګه ادبي او منطقي تسلسل او ګڼ نور اړخونه تشریح کوي او همدا ډول چې کله یو ادبي اثر ارزونه کوي یانې ښې او نیمګړې خواوې یې را برسېره کوي نو طبعاً دا پروسه پخپله د هغه ادبي اثر تشریح ده. کره‌کتنه زموږ د ژوند د بقا او پرمختګ له پاره هم مهمه ده، خو دلته زموږ موخه ادبي کره کتنه ده چې یوازې د ادبي اثار ښه او نیمګړي اړخونه رابرسېره کړي او په پایله کې لوستونکي، لیکوال او ادب ته یې ګټه رسېږي.

د ادبي کره کتنې یو ستر هدف د پوهاند فیاض له دې کرښو اخلو: «یوه ژبه او د یوې ژبې ادب هغه مهال د ترقۍ او لوړتیا معراج ته رسېدای شي، چې په کې ادبي نقد موجود وي او انتقادي روحیې په پیاوړتیا سره کېدای شي چې د پرمختګ لوړ پړاونه هم ووهي. که یو ادیب او لیکوال پر دې ټکي پوه شي، چې د ده لیکنې لوستونکي لري او د نورو له خوا تعقیبېږي او د تعقیب په ترڅ کې یې ضعیفو ټکو ته ګوته نېول او د نشر او خپرونې له امله یې ماهیت او حقیقت څرګندېږي، نو تر وسه وسه پورې به هم هڅه کوي، چې د خپلې لیکنې نمیګړتیاوې رفع کړي او ادب لپاره یو ډول خدمت دی او که په مقابل کې لیکوال پر دې پوه شي، چې یو اثر یې څوک د انتقاد له زاویې څخه نه ګوري او اصلاً انتقاد نه شته، نو دلته دا چې لیکوال د خپلې لیکنې په معایبو او محاسنو پسې نه ګرځي، هر څه که یې باد کړل، بادوي یې، رښتیا هم چې داسې لیکنې خپل ارزښت له لاسه ورکوي، د ژبې او ادب د ودې او پرمختیا مخه نیسي. په کومه ټولنه کې، چې د انتقاد روحیه پیاوړې وي، د هغې ټولنې ژبه او ادب هم پیاوړی او اثار یې مشهور دي». (فیاض، ۱۳۹۳ ل: ٦۴)

په ادبي اثارو کې د کره‌کتنې هدف د نیمګړتیاو او ښېګنو پېژندل دي او د همدې حکم یا قضاوت په اساس د یوې ښې پنځونې په رامنځته کېدو کې لیکوال ته هغه کرښې څرګندوي چې د هغې د پلې کېدو له امله لیکوال پرمختګ کوي، په فکري او فني لحاظ پیاوړی کېږي او په پایله کې داسې اثر رامنځته کوي چې په ټولنه کې به لوستونکي ولري او د هغې ژبې د عالي ادبیاتو یا لیکنو په کتار کې به ولاړ وي. دا پرمختګونه هلته تر لاسه کېدای شي چې موږ د کره کتنې د تیوری تر څنګ خپلې عملي تجربې پخې کړو نو لاندې نورې ګټې هم رامنځته کوي.

**۳ـ د کره‌کتنې تیوري اړخ:** د کره کتنې په اړه، چې څومره کتابونه لیکل شوي دي، په ډېرو کې یوازې تیوریک بحثونه شوي دي او هر اثر د کرکتنې پېژندنه، ډولونه، مکتبونه او تاریخي پس منظر باندې بحث کوي یانې د کره‌کتنې ډیزاین شوې نقشې وړاندې کوي. دا برخه د کره کتنې تیوریک اړخونه را پېژني خو عملي برخې ته یې هم ډېره اړتیا ده. د ادبیاتو په پوهنځیو کې محصلینو ته هم یوازې همدا تیوریک بحثونه وړاندې کېږي، چې کره‌کتنه لومړی چېرته رامنځته شوه؟ د کره‌کتونکي ځانګړنې کومې یوې دي؟ مکتبونه یې کوم دي؟ که په دې مضمون کې تکړه محصل سل نومرې وګټي خو بیا هم د عمل په میدان کې ناکام وي. ولې؟ ځکه چې دوی یوازې تیوري لوستي ده او عملي تمرین یې نه دی کړی یا عملي زده کړه یې نه ده تر لاسه کړې. زموږ یو خپلوان

هیڅ زده کړې نه لري، په یو لوی شرکت کې کار کاوه، هلته ډېر انجینران هم وو، مګر هر انجنیر به هڅه کوله چې دا کس د دوی په ټیم کې وي، ځکه ده عملاً کار کړی و د یو تعمیر د ډیزاین پر مهال به یې ګن اړخونه جوړښت او نورې برخې داسې تشریح کولې چې انجنیران پرې نه پوهېدل نو په دې اساس به هغوی هڅه کوله چې دا معمار د دوی په ټیم کې وي. انجنیرانو به خپله ویل چې موږ نقشه لوستې ده او اوسمهال یې د پیاده کېدو پر مهال ستونزې لرو.

نو هغه محصلین چې یوازې یې تیوري زده کړې وي یا ځینې تعریفونه په ذهن کې لري او عملي تمرین ونه کړي یا دوی ته عملي زده کړه ورنه کړل شي؛ نو په عملي ډګر کې نه ځلېږي.

**۴ـ عملي کره کتنه:** د کره کتنې د د بېلابېلو ډولونو په اړه ګڼ شمېر ادبپوهانو نظرونه وړاندې کړي دي، د هرډول ځانګړنې یې هم تشریح کړي دي. عملي کره کتنه د ژبو او ادبیاتو پوهنځي محصلینو او د کره‌کتونکو مینه والو له پاره هغه ژوندۍ پروسه ده، چې د کره کتنې ټوله صحنه دوی ته د کتنې په بڼه وړاندې کوي. د دوی تیوریک مسایل دلته عملي بڼه نیسي، د کره کتنې د وړاندې کېدو ټولې لارې چارې د دوی ذهن او روان کې ځای نیسي او د خپلو مشاهدو په اساس همدا ټکي بېرته د کره‌کتنې پر مهال دوی هم عملي کوي.

زموږ په پوهنیز نظام کې باید د تیوري اړخ تر څنګ عملي کره کتنې ته هم ځای ورکړل شي او د تیوریک درسونو وروسته هغه اثار محصلینو ته د مطالعې له پاره وړاندې شي، چې د عملي کره کتنې جنبه ولري چې په دې اړه د هېواد د نومیالي لیکوال او کره‌کتونکي استاد اسدالله غضنفر اثار «د نثر لیکلو هنر او جادوګر هنر» د استاد ښکلي د ادبستان د کره کتنې برخې، د ډاکټر محب زغم ځینې لیکنې او د نورو کره کتونکو لیکنې ولوستل شي، چې لاندې سرلیکونه هم ټول له عملي کره‌کتنې سره تړاو لري.

**۵ـ عیني، ذهني او عملي فعالیت:** کله چې له محصلینو سره د عملي کره کتنې مواد وي او هغه لولي اویا د کره کتنې په یوې غونډه کې ګډونوال وي، نو دوی په یو ادبي موضوع یا لیکنه باندې د کره کتنې ټوله پروسه ویني، چې د ادبي اثر موضوع څه شی ده؟ شکل یې څه ډول دی؟ او د کره کتونکي هدفونه کوم یو دي؟ بیا کره‌کتنه څنګه پیلیږي؟ د اثر ښېګڼې کومې دي؟ یا یې کمزوري ټکي کوم دي؟ دا پوښتنې څه ډول مطرح کېږي؟ د اثر له منځپانګې سره تړاو لري کنه؟ او داسې نور ډېر هغه مسایل دي چې د عملي کره‌کتنې پر مهال ګډونوال یا لوستونکو ته څرګندېږي او په پایله کې د محصلینو یا هغه کسانو چې غواړي د کره کتنې په روح پوه شي؛ نو دوی بیا همدا تمرین په خپله په نورو اثارو کې هم په عیني، ذهني او عملي لحاظه کولای شي. پرله پسې همدا تکرار یا تمرین د دوی د علمي پرمختګ سبب کېږي او د کره کتنې ټول اړخونه درک کولای شي او په عملي توګه هغه د یو ادبي اثر په نقد کې وړاندې کولای شي.

د نمونې له پاره د جادوګر هنر له دې سرلیک ( د پښتو د اوسني او پخواني شعر تر منځ توپیرونه) څخه لاندې برخه راوړو، چې پورتني مفهوم په اثبات رسوي: «... په پخوانیو تمدنونو کې د انسانانو ترمنځ د برابرۍ تصور موجود نه و. د جنس، طبقې، وینې او عقیدې بېلوالی په تېره زمانه کې د دې سبب ګرځېده، چې خلک د وګړیو په انساني حېثیت کې فرق راولي. افلاطون چې د زړې زمانې د عقل او حکمت اعلی مثال دی، په دې شکر کوي چې ښځه نه دی نر دی او بربر نه دی یوناني دی. د پښتو په پخواني ادب کې هم چې په فکري لحاظ د زاړه تمدن پیداوار دی، دانسانانو ترمنځ د تبعیض کولو ډېر مثالونه موندلی شو. رحمان بابا زموږ د کلاسیک ادب تر ګردو لوی اخلاقي شاعر بلل کېږي خو ان د ده په شعرونو کې هم ښځې او نارینه ته برابر مقام نه دی ورکړل شوی. د ده په دیوان کې لولو:

که سل ځله زویه غوره وي تر لونو
صدقه شه ناقابل زویه تر لوره
چې په ننګ او په ناموس تر لونو کم وي
خدای دې مور کاندي په هسې زویو بوره
ننګیالي تر برونه ښه دي او که نه وي
ننګیالۍ ترله هم ښه ده تر تربوره

په اوسنۍ زمانه کې چې طبقاتي تبعیض ته په ښه سترګه نه کتل کېږي، د رحمان بابا دا بیت مشهور دی:

نه شي د ملنګو د خانانو سره کلي
چېرته عزیز خان چېرته ملنګ عبدالرحمن

خو د رحمان بابا دا لاندې بیتونه په اوسنیو خلکو کې مشهور دي او نه اوسني شاعران د دارنګه تشبیهاتو او تمثیلونو له راوړلو سره دلچسپي ښيي:

د هر چا حرمت پخپله اندازه وي
نه چې مومې نفر ځای د امرا

نه رسېږي ستاو حسن وته حوره
څه به ورسي و مېرمنې ته مزدوره

نن سبا هرې متاهلې ته مېرمن وايو خو پخوا يې معمولا باداري ته ويل.

پخوا چې د انسان اصالت د هغه له طبقاتي موقف سره غوټه گڼل کېده، اصيل هغه څوک و چې مريي نه و. قادر ختک وايي:

وينځه که اصــيله وي که توره وي که ســپينه
ښــکلي شي تر حورو چې پرې راشي د زړه مينه

...په عرفاني ادب کې چې د انسان په باره کې د قام، ژبې، مذهب يا طبقې له رنگونو ور ها خوا خبرې کېږي، منظور ورنه د وحدت الوجود په سمندر کې د انسان فنا کېدل او د تعلق له هر ډوله رنگه د بني ادم بېلېدل دي. د عارفانو په ذهن کې د اجمل ختک دا خبره نه گرځېده چې وايي:

مېښـــې مـنـمـه د نـواب صـــاحـب دي
دي کـې خـبره کـول تـوان د چا دی؟
لې اې، اې د انسانـــــــــــــــــــانو ربه!
دغـه گـوجـرغـريـب انســـان د چا دی؟
(غضنفر، ۱۳۹۳ل: ۱۷۷ ـ ۱۸۰).

**٦ ـ فکر ورکول:** د عملي کره‌کتنې پروسه ژوندۍ ښه لري يانې محصلينوته هر څه په عينې توگه وړاندې کوي او دا بهير د دوی سره د فکر په ورکولو کې لويه مرسته کوي. موږ د عملي کره‌کتنې بهير گورو، د ليکنې ښې او نيمگړې برخې هم وينو، د خلکو نيوکې او ستاينې هم راخرگندېږي؛ نو دا پروسه د محصلينو په روان دومره ښه اغېزه کولای شي، چې کله دوی يوه ليکنه کوي يا په کوم ادبي اثر باندې کره کتنه کوي؛ نو دوی داسې فکرونه اخيستي وي، چې ادبي هڅې يې نور د پرمختگ په کاروان کې ليدل کېږي. موږ بايد په تدريسي بهير کې داسې زده‌کړه وړاندې کړو چې په محصلينو کې يوه انگيزه يا د فکر ورکولو روحيه پياوړې کړو. کله چې دوی(محصلين) د فکر ورکولو ځانگړنه تر لاسه کړه، نور يې ليکنې او ليکوال ستر ارزښت تر لاسه کوي، کله چې يې ليکنې ارزښتمنې شوې؛ نو دوی په خپل مسلک او ژوند کې هم په دې ډگر کې ښه ځليدای شي.

1. که چېرې عملي کره‌کتنه ډېره تکرار شي او محصلين يا د کره‌کتونکي مينه وال له دې برخې تجربې تر لاسه کړي؛ نو دوی چې کله نقد کوي يا ليکنه کوي؛ نو د يوې موضوع په اړه پخواني تجربې يا اورېدنې او کتنې دوی ته هم يو

نوې لاره ښيي. استاد غضنفر د نثر ليکلو په هنر کې د کاکاخيل صيب په نثر خبرې کړې چې يوه برخه يې د نمونې په توگه راوړو چې تر لوستلو وروسته نوی فکر يا ذهنيت لوستونکو ته وړاندې کوي: «.... تاريخ او تصوير ـ زموږ ځينې ليکوال چې غواړي تاريخ تصوير کړي، له تخيله استفاده کوي او تاريخي اسنادو او ماخذونو ته وفادار نه پاتې کېږي، خو د پروفيسور کاکاخيل تصويري نثر د تاريخي اسنادو لمن نه پرېږدي. مثلاً د مخزن مقدمې د لاندې خورا تصويري پاراگراف اصلي ټکې د تذکره الابرار والاشرار په حواله را نقل شوي دي: «که په دې دوران کې بايزيديان د مغلو د تورې نه په امان وو، نو وو به خو د اخوند درويزه د ژبې نه نه وو. اخوند درويزه چې د دوی خلاف کوم مهم شروع کړی و، هغه د دوی د اقتدار په زمانه کې هم هغسې جاري وو. کلي په کلي به گرځېدو او د بايزيد مريدانو او خلفاوو سره به يې بحثونه کول. کله يوازې او کله په ډله. داسې موقع هم راغلې ده چې يک يوازې د هغوی په ډله کې راگير شوی دی او هغوی د ده د مرگ بنا تړلې ده، خو د مرگ په ويره يې نه د ده په ژبه تته کړې ده او نه د ده ذهن. او داسې هم شوې ده چې د ډلې سره و او هغوی پرې يوازې راغلي دي او لکه د پښتنو يې يو بل ته ويلي دي چې: گورو به سره».

موږ په پاسنيو جملو کې درويزه او روښانيان وينو چې سره تېر و بېر کېږي او يو بل ته په غصه دي. موږ ان د دوی اواز هم اورو. د کيسې ليکوال که دغسې تصوير ولري، عادي خبره ده، ځکه د کيسې سبک تصويري دي خو د مخزن د مقدمې ليکوال دا اړتيا نه لرله. ده ځکه دا کار کړی دی چې له وضوح سره خورا دلچسپي ده. (غنضر، ۱۳۹۲ل: ۲۷۹)

يا: د نوموړي کره کتونکي لاندې کرښې چې د کاکاخيل صيب د نثر له نمونې يې وروسته ليکلي دي: «د کاکاخيل د ليکلو سبک تازه او ژوندی ښکاري او لوستونکی چې خوند ورنه اخلي يو لوی علت يې همدا تازه والی دی. د ده د سبک تازه والي درې علتونه لري: يو دا چې د خپل مقصد د بيان له پاره تر وسه وسه دقيقې کلمې پيدا کوي. بل د ولس له ژبې سره تړاو نه هېروي او کله چې غواړي يو نوی مفهوم افاده کړي، اول د ولس ژبې او د ولس د جملو

جوړښتونو ته مراجعه کوي. د سبک د تازه والي دربیمه وجه يې دا ده چې نثر يې ایروني (طنز) لري. (غضنفر، ۱۳۹۲ل: ۲۷۶)

**۷ ـ د باورمندۍ احساس:** د ارواپوهانو په اند يو انسان خپل هدف ته هغه مهال رسیدای شي، چې په خپل ځان باندې د باورمندۍ احساس ولري. دا هغه دروني ځواک دی، چې برياليتوب ته د رسېدو په لاره کې هر ډول خنډونه پرې کولای شي او هدف ته ځان رسوي (رسا، ۱۳۹۹، ۱). هغه محصلين او ځوان ليکوال چې غواړي د ليکوالۍ تجربې پخې کړي، د دې کار له پاره عملي کره‌کتنه ډېره مهمه ده. کله چې دوی خپلې ليکنې عملي کره‌کتنې ته وړاندې کړي يا د نورو په پنځونو باندې خپلې نظرونه وړاندې کړي، نو د دوی دا لړ لړ فعاليتونه راټوليږي او د دوی په روان کې يو نوی بدلون رامنځته کوي. دوی پر ځان باورمندي پيدا کوي، د هرې موضوع په اړه نظر وړاندې کولی شي او هره  موضوع په يو ادبي فورم کې وړاندې کولای شي. ډېرى مهال زموږ په فکر کې د يوې موضوع په اړه ښه نظر وي خو وړاندې کولای يې نه شو، ځکه داسې احساس کوو، چې زما نظر به د چا خوښ نه شي، يا به د نورو نظرونو تر منځه کمزوری وي. مګر دا ځانګړنه له موږ سره د يو ښه ليکوال يا کره کتونکي په کېدو کې ښه مرسته کولای شي. (غنضر، ۱۳۹۲ل: ۲۸۹)

**۸ ـ د سوژو درک:** د ځينو ليکوالو موضوعات تکراري وي يا داسې ځانګړنه نه لري، چې نوي مسايل په کې وړاندې شوي وي او د ادب په پرمختګ کې ونډه ولري؛ مګر د کومو ليکوالو چې موضوعات نوي وي، د ليکنې داخلي متن يې نوی او د کار خبرې ولري؛ نو لوستونکي هم ډېر لري او اثر يې ارزښتونه هم تر لاسه کوي. عملي کره‌کتنه د سوژو په درک کې د ځوانو ليکوالو او کره کتونکو سره مرسته کوي. (بهير، ۱۴۰۳ل، ۲۶)

په عملي کره‌کتنه کې د ليدنو او کتنو د لارې  کله کله ليکوالو ته داسې نوې زاويې رامنځته کېږي چې د ادب په غنامندۍ او د ليکوالۍ په مسلک کې اساسي رول لوبوي. په دې اړه لوستونکي کولای شي چې د استاد غضنفر جادګرهنر او د نثر ليکلو هنر يا د استاد ښکلي ادبستان ولولي او يا په عملي توګه د کره کتنو په غونډو کې برخه واخلي. (بهير، ۱۴۰۳ل، ۳۵)

**۹ ـ د ليکوالۍ پرمختګ:** ښه ليکوالۍ مشق او تمرين ته اړتيا لري، په دې اړه بايد مطالعه وشي مطالعه کولای شي د نوي ليکوال معلومات ډېر کړي او بيا په هغه موضوع باندې ليکنه وکړي. د دې ترڅنګ د ليکوالۍ ځينې تخنيکونه بايد تمرين شي د دې کار له پاره ګټوره لاره عملي کره‌کتنه ده، چې نوي ليکوال او محصلين بايد په کې برخه واخلي. په يوې هنري پنځونې او تحقيقي اثر باندې عملي کره‌کتنه دا ټول مهارتونه په ژوندۍ بڼه ګډونوالو ته وړاندې کوي. د نمونې په توګه که يوه لنډه کيسه د عملي کره‌کتنې له پاره وړاندې شوې وي، نو په غونډه کې پرې کره کتنه کېږي، چې موضوع يې څنګه وه؟ د کيسې ژبه څه ډول وه؟ همدا ډول نور تخنيکونه يې څنګه و؟ د کيسې په دې برخه کې بايد ليکوال زياتونه کړې واى يا يې له دې برخې څخه ډډه کړې واى. همدا ډول د ليکنې مخاطب په کې ښه ډول پېژندل کېږي. (بهير، ۱۴۰۳ل، ۵۲)

دا هغه پوښتنې دي چې د عملي کرکتنې د لارې رامنځته کېږي او ځينو ته ځوابونه وړاندې کېږي، دا تخنيکونه د نوو ليکوالو او محصلينو سره د ښه ليکوال په کېدو کې پوره مرسته کوي. وروسته له دې چې دوی کومې ليکنې کوي؛ نو د پخوانيو ليکنو سره به پوره توپير لري، دلته به ادبي استدلال او منطق ته ژمن وي، له هغه برخو راوړلو څخه به ډډه کوي چې د ده د ليکنې له ماهيت سره اړخ نه لګوي؛ نو طبعاً په ليکوالۍ کې يې پرمختګ رامنځته کېږي. د نمونې له پاره لوستونکي کولای شي د استاد ښکلي د ادبستان د کره‌کتنې برخې ولولي. (بهير، ۱۴۰۳ل، ٦۰)

**۱۰ ـ ادبي پرمختګ:** اوسمهال په هېواد کې ډېرى علمي مرکزونه شته، ځينې غړي يې تکړه ليکوال دي؛ مګر د ځينو کسانو ليکنې هغسې ارزښت نه لري، چې د يوې ژبې د ادب په پرمختګ کې ونډه واخلي. يو دا چې که دوی تحقيقي ليکنې کوي د ځينو تکراري موضوعات دي، چې په پخوانيو اثارو کې په دې اړه بحثونه شوي دي او بل دا چې داسې يوه نوې تيوري نه وړاندې کوي يا يې په خپله ژبه نه تطبيقوي چې نوي مسايل راوسپړي. عملي کره‌کتنه کولای شي چې ټولې هغه لارې چارې ليکوال ته څرګندې کړي، چې څنګه يوه ليکنه ارزښتمنه بلل کېږي؟ نوې ليکنه کومې ځانګړنې لري، چې د ادبياتو په زده کړه، ټولنيز نقش او نورو برخو کې رول ولوبوي؟ په عملي کره‌کتنه کې هم د تخليقي اثارو او هم د تحقيقي اثارو په اړه ګڼ شمېر معلومات وړاندې کېږي، چې د دواړو ليکنو د رامنځته کېدو پر مهال ليکوال سره مرسته کوي. کله چې د ادبياتو محصلين يا نوي ليکوال عملي کره‌کتنه تجربه کړي او بيا چې کومې ليکنې کوي پرته له شکه چې ډېرى به يې د ادبياتو په پرمختګ کې رول ولوبوي. (بهير،۱۴۰۳ل، ٦۵)

**۱۱ ـ افغان ادبي بهيرونه:** د عملي کره کتنې د زده کړې ستر مرکزونه افغان ادبي بهيرونه دي، چې اوسمهال په کابل او ننګرهار کې د نورو ولايتونو په پرتله ډېر فعال دي. په دې بهيرونو

کې هره اونۍ د کره کتنې یوه غونډه وي، ډېری مهال په کې نوي لیکوال او محصلین راټولېږي او د ادبي پنځونو د بېلابېلو برخو په اړه کره کتنې کوي. په دې غونډو کې د هېواد تکړه نومیالي لیکوال، کره‌کتونکي او استادان هم ګډون کوي، ډېری مهال دوی ځینې نوي معلومات د نویو لیکوالو په خوښه غونډې ته وړاندې کوي. د دې ترڅنګ کله چې یو نوی ادبي اثر چاپ شې دلته مخکتنې ته وړاندې کېږي او بیا کره‌کتنه پرې هم کېږي. کله کله د یو کډونوال شعر، یا لنډه کیسه همدلته تر کره‌کتنې لاندې نېول کېږي چې لیکوال د کډونوالو ټول نظریات اوري او ځینو ته ځوابونه ورکوي چې دا اړخ د نوموړي سره د نورو ښو لیکنو په رامنځته کېدو کې ښه مرسته کوي. نو د پورتنیو کرښو څخه دا پایله اخلو چې عملي کره کتنه د نویو لیکوالو، ادب څېړونکو او محصلینو له پاره ډېره مهمه ده او د دوی سره په علمي او ادبي پرمختک کې ښه مرسته کولای شي، کله چې لیکوال او د ادب پنځونکي داسې وروزل شي، نو په ژبه کې ادبي پرمختګ پخپله رامنځته کېږي. (بهیر، ۱۴۰۳ل، ۴۴)

**پایله**: موږ د محصلینو له پاره د کره کتنې ګڼ شمېر کتابونه لرو، په دې اړه ښه اساسي کتابونه لیکل شوي دي چې د یونان، عربو، رنسانس دوره او د اوسنیو معاصرو لیکوالو له تیوریو څخه بحث کوي. په دې اثارو کې د هغوی لیدلوري، د کره کتنې په اړه وړاندې شوې دي. په پوهنځیو کې هم د تیوري دا اثار لوستل کېږي، خو د محصلینو یا هغه کسانو له پاره چې له ادب او کره کتنې سره مینه لري او یا یې دا برخې د یو مسلک په توګه منلي او پاللي یې دي؛ نو اړتیا ده، چې هغوی ته د تیوریو سربېره د عملي کره‌کتنې لارې چارې رامنځته شي. د عملي لارو چارو له پاره معیارونه ټاکل کېدای نه شي، ځکه هر لیکوال خپل لید لوری لري او د هغه له فردي بنې څخه عمومي معیارونه ټاکل کېدای نه  شي. هر کره کتونکی په ادبي اثار کې بېله ښکلا او بېل هدفونه ویني. نو د کره کتنې د مینه والو، محصلینو او د ادب څېړونکو له پاره عملي کره کتنه ډېره مهمه ده. د عملي کره کتنې له پاره باید په اونۍ یا دوه اونیو کې ځانګړي بحثونه جوړ شي او په دې بحث کې په یو ادبي اثر باندې محصلین خپل نظرونه وړاندې کړي. کله چې عملي کره کتنه پیل شي تر پایه بېلابیلې پوښتنې د ګډونوالو له خوا مطرح کېږي د اثر د بېلابیلو اړخونو په اړه پوښتنې او ځوابونه وړاندې کېږي، چې دا پروسه یا سیستم کولای شي د  محصلینو یا د ګډونوالو په ذهني، فکري او علمي برخه کې بدلون او پرمختګ رامنځته کړي.

**ماخذونه**

بهیر، ف. (۱۴۰۳ل). د ادبپوهنې د تصویر یوه څنډه. کابل: سمون خپرندویه ټولنه.
رسا، ج. (۱۳۹۹ل). اعتماد به نفس. کابل: انتشارات عازم.
روهي، م. ص. (۱۳۸٦ ل). ادبي څېړنې. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
ښکلی، ا. (۱۳۹٦ل). ادبستان. جلال اباد. کلاسیک خپرندویه ټولنه.
غضنفر، ا. ا. (۱۳۹۳ل). جادوگر هنر. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.
غضنفر، ا. ا. (۱۳۹۲ل). د نثر لیکلو هنر. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.
فیاض، ف.(۱۳۹۳ل). ادبي کره کتنه. جلال اباد: ختیځ خپرندویه اداره.
مندور، م(ژباړن: اجرالدین اقبال). (۱۳۸۰ل). ادبي کره کتنه. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
هاشمي، س. م. ا. (۱۳۹۴ل). ادبپوهنه. جلال اباد: میهن خپرندویه ټولنه.
هاشمي، س. م. ا. (۱۳۹۳ل). د ادبپوهنې ځانګې. جلال اباد: میهن خپرندویه ټولنه.